# ځما دوروستی شعری ټولګه څو غزلي

## دميني طغيان

دا د ميني طغيان وي چي مين په التجا شي
مينه لاپسي اورين شي چي دلبر په استغنا شي
دا اوس هغه مهال وي چي مين ډير ځوريږي
هم ناهيلي او نااميد ستركي سري په ژړا شي
دهغه داستان د ميني افسا نه شي خوله په خوله
ګريوان څيري ليونی بی مجال سر په صحراشي
زړه له واكه ځني وځی بيګا نه شي له عقله
هغه وخت چي «مل» صنم له غروره بی پرواشي

*****

كريفلد جرمنی 13-11-2019

## استغنا

نه په ښكلو كي دی سيا ل شته
نه استغنا كی دی مثا ل شته
نه هيڅ بل يو ښا پيری ته
ځما په ذهن كي خيا ل شته

*

بی د هغي ته ښا يسته يی
ښا يستو كي يو دانه يی
هيره ولي دی هيڅ نشم
ځما د ميني خزانه يی
څه ښكلي دی شين خال شته
نه استغنا كی دی مثا ل شته

*

دانار په رنګ رخسا ر دی
په شرين ژبه ګفتا ر دی
پرمخ تورزلفي خوری دی
رمنده ستركي ښا يستی دی
نه جوړه ستا د جما ل شته
نه استغنا كی دی مثا ل شته

*

نه مین ځما په شا ن وی
نه بی تا مي ګذران وی
نه د چا په انتظا ر زه
نه له چا هیرمی داستا ن وی
«مل» پارل کی دی کمال شته
نه استغنا کی دی مثا ل شته

***** کریفلد جرمنی 2019-11-13

## خوندوینم

زه دی په مینه خپل ځواني کی ډیر خوند وینم
د خولي مسکا دی چي په مینه پخپل ژوند وینم
زلفی خوری وری شوندی دی پانی د ګل
د سروبنګړو قطا ر چي ستا په سپین مړوند وینم
په هرکتو سره دی ژوند مي نوي رنګ اخلي
چي سورپیزوان ستا په پوزه کي را ځوړند وینم
ژوند ته مي نوي ساه بخښی چي په مسکا شی راته
چي بیا په مینه کی د «مل» سره دی ونډ وینم

**** کریفلدجرمنی 2019-11-13

## مرورشو

چي څه مي نه غوښتل دهغه سره مي سر شو
پرآشنا چي اومه کړانه هغه له مانه مرورشو
د میني داستان مو رسوا شو په ټول کلو
زمونږ له دی خپګانه لر اوبر ټول خبر شو
آشنا مي د رقیب په لمسون ما نه بیګا نه شو
پیوند د میني وشلید ل ګذران می بد تر شو
سفرمی د مینی «مل» نیمګړی شو راپا تي
ټول هڅی اوزاری مي پرآشنا بی اثر شو

*** کریفلد جرمنی 2019-11-14

## ښکلا

د ښکلو ښکلا سیا لی کی بی همتا
په اوردی یم سوځلی له ډیره استغنا

ماتاته چي کتلی رغبت مي پاریدلي
تا مخ چی اړولی راغلي مي ژړا
مانه دی غړولی بی تا سترګي چاته
زه ستا د اورين مينی لر مه ادعا
دستا هره جلوه بخښلی «مل» ته ساه
ريښتيا درته وايم باور وکه پرما

***
کريفلد جرمنی 2019-11-19

## اشاری

يوبل ته اشا ری سره پټ پټ مو کول
په وخت د اشارو نوروته ښت موکول
هيجان وه د ميني پاريد لي مو په زړونو
ليلی اود مجنون مينه کټ مټ موکول
د چا نه شرميد لو سره دواړه خند يد لو
د ميني په ځپو کي ډير الفت موکول
يو بل سره د ميني تعهد «مل» مو وکړ
خبری چي يوبل سره په جوخت موکول

******
کريفلد جرمنی 2019-11-19

## بی جوړه ناوکیٔ

د ستا له دی پستو شونډو چي وانخلم خولګی
با وردی پرما وشی که نه ، کيږم ليونی

*

په عذ ر اوزاری چي دی رضا نکړم په مينه
ياداچي ستا دزړه په تل خپل مينه نکړم خونه
ما زړه پرتا با يللي خبرومه دی انجلیٔ
با وردی پرما وشي که نه ، کيږم ليونی
*

چي کله مي نظر ستا په سترګو ولويدلي
له هغی ورځي مي واک پرزړه رانه تلي

د ستا میني پرسر له ځانه شوی یم پردي
باور دی پرما وشي که نه ، کیږم لیونـۍ

*

د ستا حسن وجمال مینه ځما وپارول
په ذهن اوپه زړه مي مینه ستا ځای ونیول
اوس ته یی د «مل» په زړه پوری ناوکۍ
باور دی پرما وشی که نه ، کیږم لیونـی

***** کریفلد جرمنی 19-11-2019

## بلوا

خندا یی د استغنا سره تقوا ماتوي
ادا یی د ښکلا سره حیا له مینځه وړي
ترسکوني بارخوګان یی داناردګل په رنګ
ښایست یی د مسکا سره بلوا جوړوي
د سترګو په جنګ کي په بانو کوي ګذار
خندا یی د رضا سره د نیا بدلوی
بی اختیاره(مل) دهغي په مینه ښکیل شوي
حیا یی د وفا سره په زړه اور بلوي

**** کریفلد جرمنی 22-11-2019

## بسملول

په استغنا سره نیت دی زړه وړل دي
په مکیزو اونخروکی دی خندل دي
د غمزو او کرشمو فن کی فنکاره
په کتو کی دی مرام زړه جذبول دي
د بانو په غشو نښی ته ګذار ستا
سرپه سر پرنښی ستا پوره ویشتل دي
ستا د شونډو مسکا بی ځایه نه دي
هرادا اوکرشمي ستاانګیزي راپارول دي

**** کریفلد جرمنی 22-11-2019

## مینه

د مینې بهیر کی کله سوله کله جنګ وي
د شمع په هاله کې وزر سوی پتنګ وي
د یار ادا د مینې د سکروټې لړول دي
د مینې هیجان پا ریدلی په بل رنګ وي
نغمې د آشنا د سپینو لیچو د بنګړیو
په ټولو آهنګونو کې د خوښۍ آهنګ وي
اورین مینه «مل» ګوره چې هیڅوخت نه سړیږی
آشنا چې په خوبانو کې ښایسته اوخوش رنګ وي

**** کریفلد جرمنی 2019-12-02

## حیا مي راځي

تا ته چې وګورم حیا مي راځی
ته چې بل خوا ګوري ژړا مي راځي
ستا په ادا کې څه اثر شته دي
چې راته وګوري صفا مي راځی
ما برخه لیک خپل سپا رلی تا ته
څه چې ته وایی آمنا مي راځي
«مل»په لیدو دی هیڅ نه مړیږي
لیده کا ته سره بقا مي راځی

****** کریفلد جرمنی 2019-12-02

## رمزوراز

ماستا په سترګو کي دمینې رمز وراز لیدلي
په غلچکي نظر چې تا ما ته په نا ز کتلي
ځما له مخه په استغنا چې تیرید لي کله
د سپینو لیچو دبنګړو دی سا زآواز ختلي
اظهار د مینې یو اوبل ته له حیا نه کول
که نه مو دواړه یو اوبل نازاونیا ز منلي

مینه دژبي اودرنګ  له محد ود یت آغوښتی
«مل» ستا په مینه کي یوائحی او ممتاز وتلي

***** کریفلد جرمنی  2019-12-04

## آشنا

یوڅه په مینځ کی  زمونږوه چي شو دواړه آشنا
ستا   وه  د  شونډو  مسکا  ځما  د زړه تمنا
یو بل  مو مخکي  سره کوم چي هیڅ لیدلي نه وه
نخري دستا وه چي   په زړه کی مي شو مینه پیدا
سرحد ، رنګ  او ژبه مینه هیڅوخت  نه پیژني
ستا  د  مکیزو   په  دام   ونښته   زړه  ځما
راځه  چي مینه کړو شریک دواړه  یوبل  سره
چي  مینه  وکړو  سره  (مل)  په   صلح  اوصفا

**** کریفلد جرمنی   2019-12-04

## مه مې بخښه

که مي په مینه  دی کمی وی  کړی مه مي بخښه
که په پالنګ دبل ښایست یمه  ختلي مه مي بخښه
ما ستا  د مینې  ډیوه تل  په زړه  روښان سا تلي
که په بیلتون  دی مي ژړلي نه وي مه مي بخښه
دا چي له  ما نه مرور  ګرځې   ګناه مي څه دي
که می د ستا دلاسه کړی  وی ګیله مه مي بخښه
راځه په زړه مي آرمان  مه پریږده  پخلاشه ګله
که «مل» دي نازپه لیمو وانخیست مه مي بخښه

***** کریفلدجرمنی 2019-12-05

## دمیني ګرمي

پستي  خبری  ستا  مي  په  زړه  مینه  دی کرلي
په زړه مي ستا دمیني خښتی خونه دی جوړکړي
د مینې مزي  تا سره  مي  نه   دی  د  شلید لو
پرما چي د خپل  مینې  پرزوینه دی کله کړي

هرکله چي دی وينم له خوښی اوښکی مي څاڅي
ګرمي ستا د مينې مي تر وينه رسيد لي
د «مل» د ژوند بقا ستا په مينه تړل شوي
پخپل مکان چي مينه لکه اونه درېدلي

کريفلد جرمنی 2019-12-06 *****

## نه ځوريدم

زه که دخلکو له خبرو ويريدم درپسي نه ګرځيدم
که پرتا نه اوم مين شوي اورکي نه سوځيدم
په مينه هيڅکله بند يز څوک لګولي نشي
ددي اسرار په مفهوم مخکي زه هيڅ نه پوهيدم
مينه د اغزو پرسر پيچلی د زغم مزل دي
که په د يدار دی مړيدم هيڅکله نه ځوريدم
له اورين مينې دی اوس «مل»مخ ګرځولي نشي
که مې هم مخکي ويی ليدلي له تا نه تيريدم

کريفلد جرمنی 2019-12-07 *****

## تماس

رغبت مې شي مضعاف چي مي لاس شی ستا په لاس
ادا دی مې بی‌توله پاروه وی د زړه احسا س
د مينې پيما ني مي په ليد و دی لبريز کيږي
هوس مي د بوسي شي ستا د سرو شونډو د پاس
چی ليری کړي پلو له مخي هوس مي توفاني شي
د ذهن او د عقل مې بی‌توله شي بيلانس
دا ستا د کانی زړه پر «مل» هيڅکله نرم نشو
له ياده دی ايستلي يم چي نه نيسي تما س

کريفلد جرمنی 2019-12-07 *******

## سوله اوجنګ

کيښی نه نا ستي هيڅوخت په مينه مي په ښنګ
پوه نشم تر اخره ستا په سوله او په جنګ
په نا ز او نزاکت سره دی زړه رانه ويوړه

خلوت  دی   ونه غوښتلم  پا س په پالنګ
په للمو شونډو مې دی تازه  شونډی کینښود
نیشه دی  کړم  نخرو سره له حاله بی بنګ
په  سوله  اوپه  جنګ کله پخلا کله جنګي
د خپل مخ  په شغلو دی کړم بسمل لکه پتنګ

**** کریفلد جرمنی 2019-12-07

## مجنون

پر ما د کلي خلک  ستا د مجنون ګما ن کوي
د ستا  د کوڅې وړکي  پر ما کا نې اوروي
په حسرت ستا  د وصال  پردي  له عقله شوي
لیونـي  ځیری ګریوان ستا  بیلتون  مي ځوروي
له سترګوخوب مي تللي شمیرم دآسمان ستوري
څپی  ستا   د مینـي په خیالات  مي غورځوی
باور مي پر ځا ن نشته چي پیتي دبیلتون ویسم
تر څو  چي  یم ژوندي  «مل» به  تا  رایادوي

**** کریفلدجرمنی  2019-12-11

## دمینـي پیمانه

ما تا ته ډیر  ویلي  پرتا  مي  زړه بایللي
بیلتون  کی  دی مي تل بیواکه ډیر ژړلي
د  ستا  د اداګا نو  څپو  کی  یم  ولویدلي
له  حا له  یمه  تللي  ما  تا ته  چي  کتلي
د شرم  اود حیا سره  دی یم  بیګانه کړي
چي کله  دی  په  شونډو مسکا را توکیدلي
د مینـي پیما نه مي  تاسره  نه اندازه کیږي
دکلي خلک د«مل» اوستا په مینه پو هیدلي

***** کریفلد جرمنی 2019-12-11

## تصور

کله نا کله  مي یو  وخت ته یادوی اوکه نه؟
یا په انځورباندی مي سترګی اچوی اوکه نه؟

زه خو هر وخت دی یادومه تا نه هیروم
ته هم یاداشت کی نوم می کله لیکی اوکه نه ؟
زه د استغنا د اداگانو نه دی لیری پروت
څوک ځما مینه دی خاطر ته راولي اوکه نه؟
کله به ستا دیدار ځما د«مل» زر نصیب شي
ته هم د «مل» دغه هیلي قبلوي اوکه نه ؟

*****

کریفلد جرمنی 12-12-2019

## دلیدوتلوار

د سترګو می تلوار ستا لید و ته زیا ته شوي
کندِ ول دانتظا ر مي ستا راتلو ته ما ته شوي
خبری دراتګ دی چي مي غوږ ته رسید لي
هوس ستا د قصو د اوریدو راته شوي
په هنداره مي دسترګو غوارږم بیار ابنکاره شي
رغبت مي هردم ستا د نخرو خواته شوي
راتلو دی بیا «مل» ته نوی ژوندآشنا بخښی
غمونه په دیدار دی مي تول شا ته شوي

******

کریفلد جرمنی 14-12-2019

## د میني پیما ني

د میني پیما ني مي اوس له پوله خپل وتلي
قصي اوا فسا ني مو اوس دخلکو دخولي شوي
پټ پټ لیده کاته مو اوس هرچاته افشا شوي
زمونږ د یاراني داستا ن هر چیری رسید لي
خبری اوس د میني مو په کلي اوپه ښار دي
د ستا خوبني لپاره ما هرشي پر ځا ن منلي
هیڅکله وابه نه اورم ستا له میني دامی قول دی
«مل» تا ته د زړه حال خپل بار بار ډیر ویلي

*****

کریفلد جرمنی 14-12-2019

## د میني اندازه

په کومه تله ، تلي مي د میني اندازه

یوځل خو راته   وګوره په مینه دیوانه
په زړه دی کله هم ګرځی چی ته مي خوښیږی
نظر چي مي پرتا  شي بی بنګ کیږم مستانه
باورکه دی نه کیږي وړی سترګي ته مي ګوره
لیدو ته دی مي د سترګو درمعلوم شي پیما نه
دیوان مي د غزلو که په مینه ولولي
د «مل» په هرغزل کي ستا د مینی افسا نه

**** کریفلد جرمنی 14-12-2019

## دمینـي راز

پرځان دی ځما د مینـي نشوي پوه په ځیرکتو
ته کله به شي پوه ځما د سترګو په غمزو
*

هروخت چي ما لیدلي یي ډیر ځیر مي درکتلي
په مینه اوپه عشق ډیر اشاری مي درته کړي
نور زغم مي پا تی نه دي بی دویلو ترڅو
ته کله به شي پوه ځما د سترګو په غمزو
*

دګودرپرلار هروخت چي په لاره دی دریږم
یا داچي په پلمو چي کله تا سره غږیږم
حضورکی دی ډوبیږم له ډیر شرمه په خولو
ته کله به شي پوه ځما د سترګو په غمزو
*

دمینـي پټ راز مینځ کي سره څنګه وڅیړو
یو بل ته د یاري خپل رازڅنګه بیان کړو
چي دواړه سره پوه شو د مینی په مزو
ته کله به شي پوه ځما د سترګو په غمزو

***** کریفلد جرمنی 1202019-15

## محجوب

له ورایه په مکیزو اور په زړه مي لګوي

په مړاو مړاو کتو سره صورت مي تخنوي
*

په هنداره مي دسترګو چي په ناز راښکاره شي
یا داچي په سینګار سره بی حده ښایسته شي
په نا ز اوپه نخرو سره بیواک مي پاره وی
په مړاو مړاو کتو سره صورت مي تخنوي
*

تنی دګریوانه دي کله خلاص چی دی پریښی
پلمو سره چي پام ځما ګریوان ته خپل کړي
په شرنګ دخپل بنګړو پام ځما چي اړوی
په مړاو مړاو کتو سره صورت مي تنخنوی
*

زه مل ستا د میني په اباسین کي ولویدلي
بی تا دژوند مفهوم می بی مضمون ګرځیدلي
محجوب محجوب کتل دی می ستالوری ته وړي
په مړاو مړاو کتو سره صورت می تخنوی

-****
کریفلد جرمنی 2019-12-15

## دمینی راز

چاته ستا دمیني راز له تنګ زړه خپل بهرکړم
یا ستا له تغافله پرځان خلک ښنګه خبرکړم
یوځلي هم په مینه ودی نه کتل هیڅ ما ته
وایه ستا رضا لپاره ځان خپل دچا نوکرکړم
دا ستا د کاڼي زړه پرما هیڅ نرم نشو
ستا کرم مي ونه لید خو د بدو دي بد تر کړم
نورپه زړه د«مل»زغم له جفا دی پاتي نه دي
ستاپه مخکي خپل سروایه مات په کوم دبرکړم

****
کریفلد جرمنی 2019-12-16

## دبڼ ملیار

که یو وار مخ راښکاره کړي منت بار به دی شم
تر هغه چي مي ساه خیژی وفادار به دی شم
په وصال دی که غمونه می له زړه تول ورک کړي
د تول ښکلو په محفل کي خریدار به دی شم
که په مینه له سرو شونډو بوسه راکړي
که ځما په د نیا اوسی ستا رازدار به دی شم
ما «مل» ستا مینه په زړه کي خپل ځای کړي
وعده راکړه چی د سینی د بڼ ملیار به دی رشم

****

کریفلد جرمنی 18-12-2019

## دغشو گذارونه

په غشود بانو چي دی کول تل گذارونه
راځه اوس وگوره د سیني مي تول زخمونه
نخری سره چي اوردی مي په زړه بلوله
بیا ودی نه لیدل مي د زړه سوي داغونه
تنی دتورکمیس چي دی را خلاصه پرینبودله
راځه اوس مي گوره هیجا نی حرکتونه
تقوا ، شرم وحیا دی ویوړ له ما «مله»
دمینی تر دام کله چي دی وشیند ل تخمونه

******

کریفلد جرمنی 18-12-2019

## جداشو

اخر لیده کاته وه یوله بل نه چي جدا شو
یا دیرى دی چي دواړه مو په چیغواوژړا شو
ته یوخوا اوزه بل خوا غمجن په سلگو لاړو
یوبل ته ځیر کتل مو بیا له سترگو چي پناه شو
موسم د پسرلي وه نا وخت مازد یگری وه
د افق لمن وه سره چيِ له غر لمر ترشا شو
هیڅوخت نه انگیرل مو چي یوبل نه جدا کیږو
حالاتو داسي راغي چي زمونږ مینه تالاشو

د کلي عا شقا نو۔تول زمونږ پر حال ژړل
خوشی او مسرت پر ما «مل» ناروا شو

**** کريفلد جرمنی 2019-12-18

## دمینی تقاضا

د مینې تمنا چي ما هر با ر له تا کړي
پرځان مي پیرزوینه ستا هیڅوخت نه دی لیدلي
د حسن او د ښکلا ښا یسته مغرور بد ریه
رڼا د خپل مخ دی له ما بل خوا ګرځولي
پر ما د خپل وصا ل بند یزونه دی په څه؟
که نه دی خوښید مه تحريم نه دی لګولي
د ښکلو دا عا دت دي چي مين خپل ځوروی
مینو د خوبا نو نا ز په مینه «مل» قبلولي

**** کريفلد جرمنی 2019-12-19

## نیمګړي عشق

ترکلی دی مزل می پراغزو باندی وکړ
په هیله دوصال دی ورځو وشپو باندی وکړ
له یاده دی وتلي اوم بل خواته دی کړ مخ
له درده لوړ فریاد مي په سلګو باندی وکړ
هیڅ ونه لوریدي ځما په مینه دی ځا نته
د ځا ن سره ژړا مي په شیبو باندی وکړ
ما«مل» نه انګیرل چي له یاده به دی اوځوم
افسوس مي د نیمګړی عشق قصو باندی وکړ

****** کريفلد جرمنی 2019-12-20

## ښنی د میني

ځما ژړا ستا خندا ښني د میني وه
د مینی انګیزه مو د زړونو بیا په خوني وه
تا ځما د زړه شکا ر ته صیادی دی کوله
سترګی په کاجل دی توری زلفي وریښميني وه
هوس د میني مو په زړونو کي تیري وهله
د یو او بل سترګو لیدوته په کمیني وه

ګل د انار په رنګ رخسار دی رنګ بدلول
د تن کمیس دی چي په رنګ دیا سمینی وه

***** کریفلد جرمنی 2019-12-20

## دبیلتون ورځي

پرون مي د ځان سره په چیغو چیغو وژړیدل
له تا نه د بیلتون ورځ په یاد چي مي راوړل
آسمان په وریځو پټ ښاڅکی ښاڅکی باران وه
په هغه ورځ چي مواوښکي له سترګو څڅیدل
آرمان مو تر سرنشو مینه پا تي شو نیمګړي
راتلونکی وخت ته زړونو مو بیواکه لړزیدل
یوبل نه چي جدا شوو خلک زمونږ په تماشا وه
اکثر د کلي خلک زمونږ په مینه پوهیدل

****** کریفلد جرمنی 2019-12-20

## مه مي بخښه

که مي په مینه دی کمی وی کړي مه مي بخښه
یا که ختلي په پالنګ د بل صنم یم مه مي بخښه
ما ستا د میني ډیوه تل په زړه روښان ساتلي
که مي ژړلي په بیلتون دی نه وی مه مي بخښه
دا چي له ما نه مرورګرځي ګناه مي څه دی؟
که مي له تا چا ته ګیلي کړی وی مه مي بخښه
راځه په زړه مي ارمان مه پریږده پخلا شه ګله
که «مل» دی ناز په لیمو وانخیست مه مي بخښه

****** کریفلد جرمنی 2019-12-20

## دمیني ګیلي

قصه مي د نیمګړي میني مه کوه هر چا ته
تا خپله مینه ونکړ معلومه به وی چور تاته
ته خپله ښه پوهیږي چي مینه په رضاوی
رضا چي نه وي مینځ کي ګیلي وی پس شا ته
ما هیڅکله کمي په عشق دی کړي نه دي

*یا نه یم   تللی هیځوخت د بل ښکلي خواته*
*اوس هم د«مل» خوښیږي نازدی اخلم په لیمو*
*راځه صنم پخلاشه مخ دی واړوه زرما ته*

*کریفلد جرمنی 20-12-2019*

****

## دیدار

*ها څه چي مي په زړه وه دیدارستا درخساروه*
*په زړه مي ګرځید لی بی تا زړه نا قراروه*
*انځور ته دی کتل مي په چیغو د یر ژړل مي*
*صورت مي سوځیدله تول شپه مي په انګاروه*
*د میني بیړي مي نه وتله هیڅ ساحل ته*
*وصال ته دی مي هیله په بیړه اوتلوار وه*
*ونه ګرځی په زړه دی چي هیره یی له (مله)*
*خپه اوم در پسی سلګی مي وار په وار وه*

*کریفلد جرمنی 22-12-2019*

****

--------------------- **پای**